

## د مالي او بانکي څانګي پېژندنه:

د اقتصاد پوهنـــځی مالـي او بانکي څانګه یـو له مهمو څانګو څخه ده چـي د اقتـصاد پوهنځی په چوکاټ کي په 1391 کال کي تاسیس سـوې ده او فعالیت یې په ( 1399 ) کال کي پیـــل کړی دی چي اوس مهال په تشکیل کي شپږ تنه تکـړه او با تجربه استـادان لري چـي یو یې ماســـتر او پنځه یې لیسانس دي.

## د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د مالي او بانکي څانګي بنسټیزي موخي:

- ☑ د راتلـونکو پنځو کلونو پـه موده کي د څانګي اداره عصري او معیاري جوړول.
- ☑ د پنځوس سلنه ماسټر او شل سلنه دوکتور استادانو درلودل.
- ☑ د کیفیت د لوړاوي په برخه کي د څانګي اکاډمیـک اعتبار اخیسـتل.
- ☑ د علمي همکاریو په موخه د هیواد د دریو پوهنتونونو سره د څانګي وصل کول.
- ☑ د اوس په پرتله د محصلینو د کمیت کچه پنځه برابره لوړول.
- ☑ محصلینو ته د عملي کارونو، علمي سیرونو او نورو اړینو فرصتونو چمتو کول.
- ☑ د اوس په پرتله د علمـي مقالو او علـمي څېړنو درې برابـره زیاتـول.
- ☑ د اړتیا مطابق تخنیکي او مسلکي کارمندان استخدامول.
- ☑ د سیمـینارونـو، ورکشـاپونو او ټریننګونو په ذریـعه د ډیپارټمنټ د استادانو، کارمندانو او محصلینو ظرفیتونه لوړول.



## د ازمویني، ارزوني او حاضری اصول

د مضامینو ارزوني په لاندي تفکیک سره ترسره کېږي.

- د هر مضمون لپاره د کامیابی نمره (55٪) ده او همداراز په هر سمستر کي د (60٪) عمومي اوسط پوره کول لازمي ګڼل کېږي.
- صنفي ارزونـــي، کورنـي کارونه، حاضـري او صـنفي فعالیـتونه (20٪)
- منځنی ازموینه (20٪)
- وروستی ازموینه (60٪)
- په هغه مضامینو یا کورسونو کي چي عملي کارونو یا تطبیقاتو ته اړتـیا نه لري، د نمرو ارزونه یې په حد اکثر ډول سره له (80٪) څخه محاسـبه کېږي.
- پـه هـر مضـمون کي د حاضـری نصـاب پـوره کول حتـمي دي، پـه درسـي ساعتونو کي (75٪) حاضري پوره کول، په وروستی ازموینـه کـي د ګډون اساسي شرط دی.
- د مضمون د تطبیقاتو په ساعتونو کي له (25٪) څخـه زیاته غـیرحاضـري د

## بنسټیز ارزښتونه :

- ☑ عدالت؛
- ☑ عدم تبعیض؛
- ☑ مسلکیتوب؛
- ☑ اکاډمیکه ازادي؛
- ☑ د کیفیت لوړوالي ته ژمنتیا؛
- ☑ د قانون رعایت؛
- ☑ ټولنیزو، ملي او اسلامي ارزښتونو ته درناوی؛
- ☑ د جنډر برابري؛
- ☑ سالم مدیریت او سالمه همکاري؛
- ☑ شفافیت او د فساد مخنیوی؛
- ☑ نوښت او پرمختګ؛






# اقتصاد پوهنځی

# FACULTY OF ECONOMICS

## مالي او بانکي څانګه

## FINANCE & BANKING

# CONTACT US

**Phone**
+93 702 300 728

**Email**
econ@bost.edu.af

**Web**
www.bost.edu.af

**Address**

Bost University Complex
Lashkargah Helmand Afghanistan

Economics



## د مالي او بانکي څانګي ليرليد او ماموريت:

### ليرليد (Vision)

د اقتصاد پوهنځی مالي او بانکي څانګه به د پوهنتون او هیواد په کچه په مالي او بانکي علومو کي یو معیاري، مسلکي او مخکښه څانګه وي.

### ماموريت(Mission)

د اقتصاد پوهنځی مالي او بانکي څانګه به د هر اړخیزه امکاناتو په چمتو کولو سره مسلکي کادرونه روزي او کره پوهنیزي څېړني به رامنځته کوي، تر څو هلمند او هیواد ته غوره خدمت وکړي.

